# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

یکشنبه د ۱۳۹۹ د لړم ۲۵مه | د ۲۰۲۰ د نومبر ۱۵مه | ۶۲۸مه گڼه


2 017550 139621

## پوهنتون

۴ مخ

### د حکیم ناصر خسرو بلخي د صحي علومو انستیتیوت

د یاد مرکز اداره وايي، د امکاناتو په برخه کې هېڅ نیمگړتیا نه لري، غوره روغتون، پیاوړي استادان، علمي کدرونه، تدریسي امکانات او داسې نور هر څه یې په علمي او نړیواله سویه برابر دي.



### کرنې ریاست: روان کال د ننگرهار د نارنجو حاصلات پنځه سلنه ډېر شوي



د ننگرهار چارواکي وايي چې روان کال د دغه ولایت د نارنجو حاصلات پنځه سلنه زیات شوي دي.
د یاد ولایت د کرنې ریاست چارواکي زیاتوي چې د تېرو کلونو په پرتله روان کال په ننگرهار کې د نارنجو حاصلات ښه شوي او پنځه سلنه زیاتوالی پکې راغلی دی.
د دوی په خبره، تېر کال په شپږ سوه هکتاره ځمکه کې د نارنجو له باغونو څخه ۳٦۰۰ مټریک ټنه نارنج ترلاسه شوي وو.
د یادونې ده چې نږدې ۴۵ کاله وړاندې د دغه ولایت په ۲۰ زره هکتاره دولتي ځمکه کې د ستروسو باغونه جوړ شوي چې هر کال په کافي اندازه مالټې، نارنج، لیمو او د ستروسو کورنۍ نور تولیدات د هېواد بازارونو ته وړاندې کېږي.
د چارواکو په خبره، اوسمهال د ننگرهار په گڼ شمېر ولسوالیو کې په شخصي ځمکو کې هم د سترسو باغونه جوړ شوي او هر کال د پراختیا په حال کې دي.

# خونړۍ جگړه او د سولې نامعلوم برخلیک؛

## په واشنگټن کې له افغانستانه د ټولو سرتېرو د ایستلو پر سر ناندرۍ روانې دي



۳

### د امریکايي ځواکونو چټک وتل او د یوې خونړۍ څپې وېره

۲ مخ

### چین نوي انکشافي پراو ته په داخلېدو؛ د سوله ییز پرمختگ او گډو گټو غږ پورته کړی

۲ مخ

### حمله تروریستی بر پوهنتون کابل و اثرات آن بالای روند صلح

۳ مخ

### صالح: پر کابل پوهنتون د خونړي برید پلان جوړوونکی ونیول شو

د ولسمشرۍ مانۍ لومړی مرستیال امرالله صالح وايي چې پر کابل پوهنتون د برید طراح یې نیولی دی.
صالح تېره ورځ پر خپل فېسبوک پاڼه لیکلي چې نیول شوی کس عادل نومېږي او له ډېرو ترهگریزو ډلو سره یې اړیکې هم درلودې.
نوموړي زیاته کړې چې یاد کس اصلاً د پنجشېر ولایت اوسېدونکی دی او کورنۍ یې دا مهال د کابل ښار په خرخي پله سیمه کې اوسېږي.
هغه زیاتوي چې پر کابل پوهنتون د برید نیول شوی طراح د ثناوالله په نوم کس لخوا حقاني شبکې ته جذب شوی دی.
د صالح په خبره، نیول شوي کس پخپلو اعترافاتو کې ویلي چې وسله یې په خوست کې له حقاني شبکې څخه تر لاسه کړې او ورته ویل شوي وو چې په یاد کار سره حکومت ناکاره معرفي او تر فشار لاندې راولي.
خو طالبان چې تر دې مخکې هم په دغه برید کې خپل لاس لرل رد کړي وو، یو ځل بیا یې ویلي چې په دغه برید کې لاس نه لري.
د یادونې ده چې پر کابل پوهنتون برید د روانې لړم میاشتې پر ۱۳مه ترسره شو چې د چارواکو په وینا، ۲۲ تنه پکې ووژل شول او څه باندې ۲۲ تنه نور ټپیان شول. دغه برید چې په پراخه کچه وغندل شو، مسوولیت یې داعش وسله والې ډلې پر غاړه واخیست.

### عمران خان روانه اونۍ د مهمو مسایلو پر سر د خبرو لپاره کابل ته راځي



۵ مخ

### عبدالله: در جنگ افغانستان، کشورهای منطقه دخیل اند و توقف آن در توان حکومت نیست



عبدالله عبدالله رئیس شورای عالی مصالحه ملی از عدم کاهش خشونت ها از سوی طالبان ابراز نگرانی کرد و گفت که رهایی زندانیان بخاطر آتش بس بود؛ اما نتیجه نداد.
عبدالله گفته است: «مسئله رهایی زندانیان طالبان، به این خاطر بود که خشونت ها کاهش پیدا کند و به همین امید بود که با شروع مذاکره، این ها حاضر میشوند به قطع جنگ و آتش بس، حداقل آتش بس بشردوستانه، که متاسفانه نتیجه نداد».
رئیس شورای عالی مصالحه تاکید کرد که در جنگ افغانستان، کشورهای منطقه دخیل اند و توقف آن در توان حکومت نیست.
وی تاکید کرد که هیات مذاکره کننده افغانستان، تمام تلاش خود را جهت تامین صلح باعزت انجام میدهد و در صورتیکه نتیجه ای در پی نداشت، موضوعات مورد بحث صلح با مردم شریک ساخته خواهد شد؛ تا مردم تصمیم بگیرند.
او به زنان کشور اطمینان داد که خواسته های مردم به ویژه حقوق زنان، در مذاکرات صلح به معامله گرفته نخواهد شد.
این درحالیست که دو روز قبل نیز رئیس شورای عالی مصالحه ملی، در روز نخست گفتگوهای امنیتی هرات، از عدم پیشرفت در مذاکرات بین‌الافغانی در دوحه ابراز نگرانی نموده و گروه طالبان را متهم کرد که در این مذاکرات، انعطاف پذیر نبوده است.


Aksos Book Store

اکسوس کتابپلورنځی

کتاب مو د ژوند ملگری کړئ

Aksos



کابل دریمه ناحیه، دده‌بوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

aksosbookstore@gmail.com

## سرلیکنه

### د امریکایي ځواکونو چټک وتل او د یوې خونړۍ څپې ویره

له افغانستان څخه به بېړنۍ توګه د امریکایي سرتېرو د ایستلو بحثونه لا هم ګرم دي او داسې ښکاري چې ټرمپ په دې تړاو خپله ژمنه عملي کوي. د امریکا د دفاع وزارت ټوله هغه رهبري بدله شوه چې له افغانستان څخه یې د ځواکونو د وتلو مخالفت کاوه او پر ځای یې داسې رهبري راغله چې غواړي په چټکۍ سره امریکایي ځواکونه له افغانستان څخه ووځي. اوس په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو عمومي قوماندان جنرال سکاټ مېلر هم امریکا ته غوښتل شوی چې د ځواکونو د چټک وتلو پر لارو چارو مشورې او پرېکړې وکړي. ټرمپ غواړي چې د جنورۍ تر ۲۰مې د خپلو پوځیانو شمېر تر دوو زورو پورې را کم کړي.

پخوا په دې اړه شکونه وو چې امریکا به خپل ځواکونه له افغانستان څخه وباسي، خو اوس دا یقیني ښکاري چې امریکایي ځواکونه له افغانستان څخه وځي او امریکایي چارواکي غواړي د افغانستان جګړه د خپل ځان لپاره ختمه کړي. د امریکایي ځواکونو وتل که له یوه اړه یو مثبت او ښه ګام دی، خو له بله اړخه دا د جدي اندېښنې وړ ده چې د امریکایي ځواکونو له حضور وروسته افغانستان به له څه ډول برخلیک سره مخ وي.

له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو وتل په داسې وخت کې چټک کېږي چې د افغانستان د سولې پروسه په ټپه ولاړه ده او هېڅ پرمختګ پکې نشته. له بده مرغه نه یوازې دا چې د سولې پروسه په ټپه ولاړه ده، بلکې جګړې او وژنې هم ورځ تر بلې زیاتېږي. داسې ښکارېږي چې د سیمې هېوادونه په افغانستان کې د یوې بلې جګړې په لټه کې دي. له همدې امله مرموزې وژنې، مېلشه جوړونې او د سولې ضد کارونه په چټکۍ سره روان دي.

که امریکایي ځواکونه له افغانستان څخه وځي او د ښکېلو اړخونو ترمنځ په سوله او جوړجاړي کې مهم پرمختګ ونه شي، نو جګړې به لا زیاتې شي او موږ به له سخت ناوړه حالت سره مخ شو. له بده مرغه په کابل کې د واک او څوکۍ لېوني مینان او هاخوا ته ضدي طالبان د هغه څه په اړه اندېښنه نه کوي چې ولس ورسره مخ کېدونکی دی. په حکومت کې واکمن فکر کوي چې د خپلو سیمه‌ییز او ځینو نورو متحدینو په مرسته لا هم جګړه کولی شي او ځینې سیمې له طالبانو ساتلی شي. په دې ډول دوی فکر کوي چې واکمني یې غځېږي. له بله اړخه طالبان فکر کوي چې د امریکایي ځواکونو له وتلو وروسته دوی لا زیاتې سیمې لاندې کولی شي او آن اوسنی حکومت سقوط کولی شي. دا چې دواړه لوري دا کارونه کولی شي او که نه، جلا بحث دی، خو له بده مرغه له دواړو سره دا اندېښنه نشته چې د دوی دغه ارمانونه به د زرګونو افغانانو وینې توی کړي، افغانستان به په پوره مانا یوې کورنۍ جګړې ته ولاړ شي، ډېر انسانان به ووژل شي، ډېر به بې کوره شي او افغانان به له بې سارو بدو حالتونو سره مخ شي.

دواړو اړخونو ته پکار ده چې د خپلو ارمانونو پر ځای د ولس د خوندیتوب، ارمانونو او عزت په اړه فکر وکړي. دوی باید له دې موقع استفاده وکړي، د سولې خبرې باید پیل شي. له دې پرته د وینو او وژنو یوه لویه څپه را روانه ده او دواړه اړخونه به بیا له دې کبله د الله تعالی او خلکو پر وړاندې مسوول وي.



# چین نوي انکشافي پړاو ته په داخلېدو؛ د سوله ییز پرمختګ او ګډو ګټو غږ پورته کړي

لیکوال: وانګ یو
په افغانستان کې د چین لوی سفیر

د ښایسته منې په اکتوبر کې د چین د کمونېست ګوند د ۱۹مې مرکزي کمېټې ۵مه عمومي غونډه په بېجینګ کې تر سره شوه. شي جین پینګ د مرکزي کمېټې د سیاسي بیورو په استازیتوب په یاده غونډه کې کاري راپور وړاندې کړ. په دغه غونډه کې د چین د ملي اقتصاد او ټولنیز پرمختګ د ۱۴م پنځه کلن پلان او د ۲۰۳۵ کال د موخو په اړه د کمونېست ګوند د مرکزي کمېټې وړاندیز تر څېړلو وروسته، منظور شو. دغه وړاندیز د کمونېست ګوند د غړو هوښیارتیا او ذکاوت او د ټولنې یووالی منعکس کوي او دا ښیي چې چین نوي انکشافي پړاو ته داخل شوی دی.

«پنځه کلن پلان» د چین د ملي اقتصادي پلان مهمه برخه ده. دا د تیرې پیړۍ له ۵مې لسیزې راهیسې پلی کیږي او د چین د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ لپاره ترې عمده پلانونه جوړیږي. دغه پلان د نورو هیوادونو لپاره تر ټولو مستنده حواله وړاندې کړې، خو په نوي دوره کې د چین پر اقتصادي- انکشافي تمایل ښه پوه شي. یاد وړاندیز کې د راتلونکو ۵ کلونو حتی د اوږدې مودې لپاره د چین د ملي اقتصاد او ټولنیز پرمختګ عملي نقشه وړاندې شوې او د بشر د ګډ برخلیک ټولنې د ابادۍ هر اړخیز معلومات پکې ځای شوي او د سوله ییز پرمختګ او د ګډو ګټو د همکاریو غږ پکې منعکس شوی دی.

په یاده عمومي غونډه کې د دې ستاینه وشوه، چې د شي جین پینګ په مشرۍ د ګوند مرکزي کمېټې پر خپل اصلیت او دندو ټینګولو سره د ټول ګوند او د هېواد د مختلفو ملیتونو په یووالي او استازیتوب د ګوند او هېواد د لارو چارو د پرمخبیولو لپاره ډېرې هلې ځلې کړې دي، د ۱۳م پنځه کلن پلان د عملي کیدو په موده کې یې په پوره توګه د نسبتاً سمسورې ټولنې د جوړولو په کلیدي پړاو کې د لیدو وړ بریالیتوبونه تر لاسه کړي او د پرمختللي سوسیالیستي هېواد د پوره ابادۍ لپاره یې ټینګ بنسټ کېښودلی دی.

لومړی؛ د چین اقتصادي ځواک په ثابت ډول ښه شوی او اقتصادي جوړښت یې په دوامداره توګه اصلاح شوی دی. له ۲۰۱٦ کال راهیسې نړیوال وضعیت ډېر پیچلی شوی او نړۍ کې یواړخیزم، پروټکشنیزم او زورواکي پورته شوې، چې د چین اقتصادي ودې او بهرني تجارت پر وړاندې یې د مقاومت خنډونه جوړ کړي دي. د ګوند مرکزي کمېټه د ثبات ساتلو پر مهال د پرمختګ په لټه عمومي زمینې ته ژمنه ده، په مجموعي ډول د چین د اقتصاد ثابته او ګړندۍ وده هڅوي او په هر اړخیزه توګه اقتصادي جوړښت تنظیموي. په تېرو پنځو کلونو کې د چین ملي اقتصاد هر کال ٦.۵ سلنه وده کړې، چې دا ورته مهال د نړۍ د پرمختګ د منځنۍ سویې دوه برابره ده. د دې تر څنګ، اقتصادي جوړښت یې په دوامداره توګه اصلاح شوی او تمه کیږي، چې GDP به یې په ۲۰۲۰ کې له ۱۵ ټریلیونو ډالرو ډېره شي.

دویم؛ په چین کې د خلکو ژوند او ګټې یې ښې شوې دي او د بې وزلۍ د له منځه وړلو په برخه کې یې د لیدو وړ نتیجه تر لاسه کړې ده. د ۱۳م پنځه کلن پلان په موده کې د شي جین پینګ په مشرۍ د ګوند مرکزي کمېټې د چین د خلکو د مستقیمو او واقعي ګټو په اړه ځینو مسئلو ته په ډېره درنه سترګه کتل شوي، د استخدام کیفیت او د خلکو د عایداتو سویه یې لوړه کړې، عامه خدمتي سیستم یې نور هم بشپړ کړی، د ټولنیز ضمانت سیستم یې پیاوړی کړی او د بې وزلۍ د کمښت او له منځه وړلو تګلارو په برخه کې یې په هر اړخیزه توګه ډېرې ښې نتیجې تر لاسه کړې دي. په ۲۰۱۹ کال کې د چینایانو د هر کس پر سر منځني عایدات ۴٦۴۸ ډالرو ته رسیدل، چې د ۲۰۱۵ کال په پرتله یې ۳۹،۹ سلنه زیاتوالی ښود. په چین کې د بنسټیزې طبي بیمې خدمت یو میلیارد او ۳۰۰ میلیونو تنو ته او د لوړ عمر د بنسټیزې بیمې خدمت یې یو میلیارد کسانو ته رسیدلی دی. له تیرو ۵ کلونو راهیسې په چین کې د بې وزلو کسانو شمېر تر ډېره کم شوی، په دغه هیواد کې په ۲۰۱۵ کال کې د بې وزلو کسانو ثبت شوي عایدات ۵۱۷ ډالره وو او په ۲۰۱۹ کال کې یې دغه رقم ۱۴۸۴ ډالرو ته پورته شو، چې کلنی زیاتوالی یې ۳۰،۲ سلنې ته رسیده او له ۲۰۱٦ کال څخه تر ۲۰۱۹ کال پورې د چین په کلیوالو سیمو کې ۵۰ میلیونه کسان له بې وزلۍ څخه وتلي دي.

دریم؛ په چین کې ایکولوژیکي چاپیریال ډېر ښه شوی او د ښایسته چین ابادي نوې مرحلې ته داخله شوې ده. په همدې موده کې چین په ټینګې ارادې سره ایکولوژیکي چاپیریال او شین پرمختګ ته لومړیتوب ورکړی او د ایکولوژیکي چاپیریال ساتلو په برخه کې یې تاریخي، ستر او لوی بدلون رامنځ ته کړی دی. له تیرو ۵ کلونو راهیسې یې لس زرو یوانو ته د GDP د پورته کېدو لپاره د کاربن ډای اکسایډ ایستلو اندازه ډېره کمه کړې او کچه یې د ۲۰۱۵ کال په پرتله ۱۸،۲ سلنه ټیټه شوې ده. په ۲۰۱۹ کال کې یې لس زرو یوانو ته د صنعتي ارزښت د پورته کېدو لپاره د لویو تصدیو مصرفي انرژي د ۲۰۱۵ کال په پرتله ۱۵ سلنه کمه کړې ده، چې اندازه یې ۴۸۰ میلیونو ټنو سکارو سره برابره ده. رییس شي جین پینګ د ملګرو ملتونو د ۷۵یمې اسمبلۍ په مباحثوي غونډه کې اعلان وکړ، چې د چین کاربن ډای اکسایډ د ایستلو اندازه به تر ۲۰۳۰ کال پورې د لوړتیا په حال کې وي او وروسته به رکود غوره کړي او په ۲۰٦۰ کال کې به دغه ستونزه د شنو تدبیرونو له لارې حل شي، چې د نوموړې دغه خبرې د نړیوالو له تود هرکلي سره مخ شوې دي.

څلورم؛ د چین لوړې کچې ورخلاصون واقعي پایلې تر لاسه کړې دي، سوداګریز چاپیریال یې ډېر ښه شوی او د نړۍ په مخکښ کتار کې ولاړ دی. د ۱۳م پنځه کلن پلان په موده کې چین د ورخلاصون ځینې تدبیرونه وړاندې کړل، د بهرنیو سوداګرو د پانګونې قانون یې اصلاح او پلی کړ، د بهرنیو سوداګرو پر مخ د داخلیدو تور لېست یې کم کړ، د ازاد تجارت ۲۱ ازمېښتي ناحیې یې جوړې کړې، له ۲۵ هېوادونو او سیمو سره یې د ازاد تجارت ۱۷ تړونونه لاسلیک کړل، تر ډېرې اندازې پورې یې د بازار عملیاتي لګښتونه کم کړل، مساوي، روڼ او ارام تجارتي چاپیریال یې جوړ کړ او د ورخلاصون اقتصاد د نوي میکانیزم ابادي یې چټکه کړې ده.

پنځم؛ چین همیشه خلکو ته لومړیتوب ورکوي او د کووید-۱۹ پر ضد مبارزې کې یې ستر نتایج تر لاسه کړي دي. په یاد وړاندیز کې په لومړي ځل هغه لرې موخه واضح شوې، چې ټول چینایان باید شتمن او سمسور ژوند ولري او له دې څخه خلکو ته د لومړیتوب او مرکزیت ورکولو په اړه د ګوند انکشافي افکار څرګندیږي. د چین کمونېست ګوند او حکومت د کرونا وبا پر ضد مبارزه او اقتصادي او ټولنیز انکشافي کارونه ترتیبوي، همیشه یې د خلکو ژوند، امنیت او روغتیا ته لومړیتوب ورکړی او په دې برخه کې د ټولو ناروغانو لګښتونه د حکومت لخوا ورکړل شوي دي. د امریکا لخوا له یوې ټولپوښتنې سره سم؛ د کرونا وبا پر ضد د مبارزې په برخه کې د خپل حکومت په اړه د چینایانو د رضایت توازن تر ټولو لوړ دی.

د ۱۳م پنځه کلن پلان په موده کې د نړۍ له پیچلو حالاتو سره سره د شي جین پینګ په مشرۍ د ګوند مرکزي کمېټې د ستراتیژۍ په تنظیمولو او ټینګې ارادې سره د چین په دننه کې د اصلاحاتو او پرمختګ سترې دندې پوره کړې او د کرونا وبا پر ضد د مبارزې په اړه د لیدو وړ نتیجې یې تر لاسه کړې دي. یاد وړاندیز پر دې اساس د ۱۴م پنځه کلن پلان په موده کې د چین د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ لپاره نقشه جوړه کړې او د سوله ییز پرمختګ او د ګډو ګټو د همکاریو له رویې سره سم یې له بېلابېلو هیوادونو سره د نوي ډول نړیوالو اړیکو او د بشر د ګډ برخلیک ټولنې د ابادولو هیله ښودلې ده. ډېر محتویات یې د لارښووونې ډېر ارزښتونه لري چې چین او نورو هېوادونو ته په تېره بیا د افغانستان په ګډون، مختلفو پرمختیایي هیوادونو ته پوره ډاډ او اطمینان ورکوي.

لومړی؛ چین به د نوښت ځواک پیاوړی کړي او غښتلی علمي هېواد به جوړ کړي. چین به خپل ستراتیژیک علمي قوت پیاوړی کړي، کلیدي تخنیکونه به خپل کړي او د نړیوالې سیالۍ توان به لوړ وساتي. په دې وروستیو کلونو کې ځینې هېوادونه لالهانده شوي او پر هواوي او ټیک ټاک یې بندیزونه لګولي او د کلیدي چیپ د برابرۍ په برخه کې د چین پر وړاندې خنډونه جوړوي او غواړي چې د چین د اقتصادي او علمي پرمختګ مخه ونیسي. چین به په نوې موده کې علمي څېړنو ته لا زیاتې پاملرنې وکړي، د خپلو تصدیو اختراعي توان به لوړ کړي، د ځینو هېوادونو د زورواکۍ مخه به ونیسي او له مختلفو پرمختیایي هېوادونو سره به انکشافي فرصتونه شریک کړي.

دویم؛ د هیواد رښتینی اقتصاد دې پیاوړی او اقتصادي سیستم دې نور هم ښه شي. رښتینی اقتصاد د یو هېواد د پرمختللي اقتصادي سیستم نه جلا کیدونکې برخه ده او د اقتصادي پرمختګ عمده تکی او بنسټ هم دی. چین همیشه په عمومي اقتصاد کې د رښتیني اقتصاد ثابت توازن ساتي، چې دا په نړۍ کې د څو ځلو اقتصادي بحرانونو د راتلو پر وړاندې د مقابلې لپاره د چین مهمه وسیله ده. چین به په راتلونکې کې د تولیداتو او باکیفیته تولید په برخه کې غښتلی هېواد اباد کړي، رښتینی اقتصاد به نور هم پیاوړی کړي، تولیدي لړۍ به نوره هم ښه کړي، د اقتصادي کیفیت، ګټې او د سیالۍ کلیدي توان به لوړ کړي او د نړۍ د اقتصادي پرمختګ د ټینګ بنسټ په توګه به پاتې شي.

دریم؛ د هېواد دننه دې نوي انکشافي حالات اباد شي. چین به کورنۍ اړتیاوې زیاتې کړي، کورنی اقتصادي سیستم به نور هم بشپړ کړي او د کورنیو او بهرنیو بازارونو پیوستون به وهڅوي. دا به د نړیوالې سیالۍ د امتیاز ساتلو او د پرله پسې اقتصادي پرمختګ لپاره د چین یوه اصلي ستراتیژي وي. چین یو میلیارد او ۴۰۰ میلیونه نفوس لري او د هر کس پر سر GDP یې له لس زرو امریکایي ډالرو څخه اوښتې، د نړۍ تر ټولو لوی او ځواکمن مصرفي بازار لري او د پرمختګ ځای یې هم ډېر لوی دی. چین به په کورني بازار کې تولید، ویش، ټرانسپورټ او مصرف په ګډون هره برخه یو له بل سره پیوسته کړي، د عرضې جوړښت به ښه کړي، د کورني بازار سویه به لوړه او د نړۍ لپاره به ښه بازاري بنسټ چمتو کړي او له نړۍ سره به پراخ بازاري فرصتونه شریک کړي.

څلورم؛ چین به د لوړې سوېې ورخلاصون پلی او د ګډو ګټو نړیوالې همکارۍ به وهڅوي. په یاد وړاندیز کې لیکل شوي، چې چین به په لا پراخو ساحو او زیاتو برخو کې په ژوره کچه ورخلاص کړي، ازاد او اسان تجارت او پانګونې به پرمخ بوځي او د یو کمربند او یوې لارې ګډه باکیفیته ابادي به وهڅوي. نړیوال د چین ګډې مشورې، ابادي او شریک اصول ستایي، چین به متقابل تجارت او پانګونې پراخې کړي، د یو کمربند او یوې لارې په اړه امنیتي ضمانت به پیاوړی کړي او د مختلفو هېوادونو د اساسي تاسیساتو پیوستون به وهڅوي. چین به د تجارت څو اړخیز سیستم ته پرمختګ ورکړي او نړیوالې همکارۍ به پیاوړې کړي، څو د ګډو ګټو همکارۍ رامنځ ته شي.

چینې ملت همیشه دا وایي چې نړۍ زموږ شریک کور دی او باید له هر کس او ټولو شیانو سره مینه ولرو، باید په عادلانه توګه نړیوالې چارې تر سره کړو او باید د مختلفو هېوادونو خلک د وروڼو په شان ګډ ژوند وکړي. د چین د دولت رییس شي جین پینګ څو ځله غوښتنه کړې، چې د ملګرو ملتونو په مرکزیت نړیوال سیستم او د نړیوالو قوانینو پر اساس نړیوال نظام باید وساتو، باید د ګډو ګټو پر اساس پرانیستې ستراتیژي غوره او له نړیوالو سره یو ځای د بشر د ګډ برخلیک ټولنه اباده کړو. چین د نړۍ تر ټولو لوی پرمختیایي هېواد دی، نو که وغواړي، د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ او په هر اړخیزه توګه د پرمختللي سوسیالیستي هېواد موخه پوره کړي، د نړۍ ارامو سیاسي او امنیتي حالاتو، خپلو هلو ځلو او د نړۍ د نورو هېوادونو ګډو کوښښونو او پرمختګ ته اړتیا لري.

چین غواړي چې له افغانستان او نورو هېوادونو سره یو ځای د کرونا وبا پر ضد د مبارزې په اړه نږدې همکارۍ وکړي، د نړۍ د اقتصاد اداري سیستم نور هم عادلانه او بشپړ کړي، د یو کمربند او یوې لارې د ګډې ابادۍ په اړه باکیفیته پرمختګ رامنځ ته او په بېلابېلو ساحو کې د ګډو ګټو د همکاریو سویه لوړه کړي او په ګډه سوکالي او نیکمرغي تر لاسه کړي.

# حمله تروریستی بر پوهنتون کابل و اثرات آن بالای روند صلح

نویسنده: مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی

روز دوشنبه ۱۲ ماه عقرب سال ۱۳۹۹ سه مهاجم انتحاری وارد دانشگاه کابل شده و برای بیشتر از چهار ساعت با نیروهای امنیتی درگیر شدند. پولیس کابل طی گزارش بیان نمود که ۱۳ نفر بخاطر غفلت از وظیفه در حمله به دانشگاه کابل بازداشت کرده است.

در این حمله ۲۲ نفر کشته و ۴۰ تن زخمی شده اند که اکثریت آن دانشجویان و محصلان دانشگاه کابل میباشند. حمله مهاجمان مسلح به بزرگترین مرکز آکادمیک کشور با سابقه صد ساله، در عین حال که سخت تکان دهنده بود، سوال‌های زیادی در اذهان عامه مردم ایجاد کرده است. مردم میپرسند که این حمله با چی انگیزه ای صورت گرفته و چگونه مهاجمان با دست داشتن سلاح های سبک و سنگین توانسته اند خود را به دروازه پوهنتون برسانند و خلل در کجا است؟

خاطره تلخ برای نسل دانشجویی کشور

حمله روز دوشنبه ۱۲عقرب به دانشگاه کابل وحشتی را میان حلقات علمی- تحصیلی و عامهء مردم ایجاد نموده است. این حادثه قلب‌های هموطنان را جریحه دار نموده و کشور را به یک سوگ واقعی کشانده است. حمله بر ساختمان آموزش‌های حقوقی پوهنتون که در آن روز محصلان دو صنف فاکولته های اداره و پالیسی عامه و یک صنف حقوق و علوم سیاسی را در خود جا داده بود، صورت گرفت.

شکیلا (۳۲ ساله) محصل سال چهارم پوهنځی پالیسی و اداره عامه پوهنتون کابل از جمله چند دانشجویی است که از محل حادثه جان سالم بدر برد. هر چند خودش زنده مانده است، ولی این حادثه او را شوکه کرده زیرا که همصنفان خود را در مقابل چشمانش از دست داده است. او میگوید: «ساعت ۱۰:۴۶ صبح به وقت کابل صدای اولین شلیک گلوله شنیده شد، برق قطع شد درس تمام شده بود، استاد خداحافظی کرده میخواست از صنف بیرون شود که تیر اندازی بیشتر شد. استاد از ما محصلان خواست به زمین بخوابند ولی تیر اندازی شدت گرفت و به صنف نارنجک پرتاپ شد. او میگوید که من و چند تن از دوستانم که در اخیر صنف و گوشه دیوار بودیم خود را به مردن زدیم، روی ما چوکی ها افتاده بود، سر و صورت ما گوشت و خون همصنفان ما پاشیده شده بود، به همین دلیل فکر کردند که ما مرده ایم. فکر نمی کردم زنده بمانم چندین بار کلمه شهادت را خواندم، حالت غیر بیان داشتم، فقط دعا میکردم، فضای کوچک صنف پر از دود و خون بود، در همین حالت بودیم تا پس از چندین ساعت پولیس ها داخل شده و ما را بیرون کردند.»

این خاطره تلخ یکی از ده ها محصلی بود که شاهد حادثه بوده اند، مرگ را در چند قدمی خود مشاهده کرده اند و تا ابد خاطره، تلخ آنرا فراموش نخواهند کرد.

مسؤلیت حادثه

حمله به قشر جوان و تحصیل کرده جامعه که میخواهند آینده برای خود و کشور شان بسازند، باشنده گان کابل را تکان داده و خشم عمومی را برانگیخته است. دشوار است بتوان درک کرد که چی کسی می تواند چنین کشتاری را با خونسردی انجام دهد.

داعش مسؤلیت حمله را به دانشگاه کابل را بعهده گرفت و عکسی از دو مهاجم نقاب دار منتشر کرد که به گفته آنها مراسم فراغت قضات و بازرسان را هدف قرار داده بودند. این درحالیست که طالبان برائت شانرا از دست داشتن در حادثه اعلان نموده اند.

ولی امرالله صالح معاون اول ریاست جمهوری افغانستان، بیانیه یی داعش را جعلی توصیف کرد و گفت سلاح های یافت شده در صحنه با عکسی که داعش منتشر کرده، مطابقت ندارد. وی به پرچم طالبان که ظاهراً در محل حادثه پیدا شده به عنوان مدرک اشاره کرده می گوید که حمله کار طالبان، نه داعش.

نشر یک ویدیو موضوع را مبهم‌تر کرد؛ ویدیویی که به نظر می رسید از شبه نظامیان نقاب دار داعش باشد که دست داشتن در حمله را انکار می کردند و گروه مخالف دولت را مقصر می دانستند. بیشتر کارشناسان بر این نظر اند که این ویدیو جعلی است و هنوز مشخص نیست که اگر گروه مخالف دولت (طالبان) می خواستند حمله را به خود منسوب نکنند، چرا پرچم شانرا با خود برده بودند؟ طالبان در بیانیه یی این حمله را محکوم کرد و دولت را متهم به حمایت از داعش کرد. ذبیح الله مجاهد سخنگوی طالبان در تکذیبه‌ای با عصبانیت پرسیده: «چگونه ممکن است مهاجمان درگیر در جنگ وقت پیدا کردند تا روی دیوارها رسامی بکشند؟ و آوردن پرچم در محل حمله چه منظوری داشته؟» این در حالیست که تعداد انتقاد گروه مخالف را بسیار بی معنا بیان کرده و این حمله را مشابه به حمله سال ۲۰۱۶ دانشگاهی آمریکا که ۱۳ کشته داشت عنوان می کنند.

در هر کشور مقوله تعلیم، تربیت و تحصیل بخصوص تحصیلات عالی و مسلکی جایگاه بسیار بالا دارد. انکشاف در ابعاد فرهنگی، سیاسی، اقتصادی و اجتماعی مرهون افراد تحصیل کرده آگاه، دانشمند و محقق می باشد. از طرفی عدم دقت در برنامه ریزی درسی و پلان گذاری تربیتی می تواند پیامدهای منفی و غیر قابل جبران بر جای بگذارد، توسعه و پیشرفت هر کشور بدون تربیت کدر علمی ماهر، دانشمند و پژوهشگر آرزوی دست نیافتنی تلقی می گردد.

متأسفانه در افغانستان حمله بالای مراکز تحصیلی و آموزشی بی پیشینه نیست، در آخرین مورد، مرکز آموزشی کوثر دانش در غرب کابل هدف حمله انتحاری قرار گرفت، که طی آن دست کم ۲۴ نفر کشته و ۵۷ نفر دیگر زخمی شدند و همه قربانیان جوانان بودند.

اثرات حادثه بر روند صلح

پروسه صلح افغانستان در این روزها نسبت به پروسه های گذشته با تشدد روی آن کار شده روان است، علیرغم خوشبینی های موجود در پروسه صلح افغانستان بازهم نگرانی های جدی از آینده آن وجود دارد. با وجودیکه مردم افغانستان میدانند پروسهء صلح به زودی به نتیجه نخواهد رسید، اما چون راه دیگری به جز خاتمهء جنگ پیش روی شان وجود ندارد، بازهم با امید فراوان چشم به انتظار نتایج مثبت این روند میباشند.

اما تشدید جنگها طی هفته های اخیر و حملات مخالفین بر اهداف غیر نظامی؛ پروسه صلح را بیش تر از بیش به کندی مواجه میسازد، حادثهء کشتار محصلین در پوهنتون کابل آخرین نوعی ازین حملات بود که می امید مردم برای تحقق صلح و آشتی ملی را به خاک یکسان ساخت.

در حالیکه مخالفان صلح در داخل و خارج کشور فعال شده اند، تا روند جاری مذاکرات میان حکومت افغانستان و حرکت طالبان را هر طوری شده سبوتاژ نمایند و دست‌های مرموزی در شهرهای افغانستان حوادث خونین می آفرینند، عامهء مردم طالبان را دوام جنگ و برادر کشی در کشور بیشتر مقصر می دانند زیرا که تا حال حاضر نشده اند آتش بس بدون قید و شرط را بپذیرند.

یک روز پس از حادثهء خونبار پوهنتون کابل، دانشجویان معترض در مقابل در ورودی دانشگاه تجمع نموده علیه طالبان شعارهای تندی سر دادند. آنها از حکومت افغانستان و تیم مذاکراتی در دوحه خواستند تا مذاکرات صلح را به صورت فوری قطع و به کشور برگردند و تا زمانیکه طالبان آتش بس را نپذیرفته اند، دوباره به میز مذاکره حاضر نشوند.

با توجه به حادثهء وحشتناک پوهنتون کابل؛ مسؤلیت تیم های مذاکراتی سنگین تر می شود. مردم افغانستان از هیئت های مذاکراتی طالبان و حکومت افغانستان می خواهند تا هرچه زود تر مذاکرات صلح را به نتیجه برسانند. نباید اطراف مذاکره کننده وقت کشی کنند و منتظر بنشینند که نتائج انتخابات امریکا به کدام سمت میرود و حکومت آیندهء امریکا چی معامله ای با روند صلح در کشور می نماید. صلح، ضرورت وقت و وجیبهء شرعی و ملی افغانها است و کلید صلح نیز در دست هیئت های مذاکره کننده قرار دارد. قبل ازینکه خون های بیشتری ریخته شود و حوادث دردناک‌تری به وجود بیاید، تیم‌های مذاکراتی باید راه را بخاطر تحقق یک صلح دائمی و دوامدار در کشور هموار سازند. والا در پیشگاه خداوند متعال و در برابر مردم افغانستان سر افگنده و خجل خواهند بود.

# خونړۍ جګړه او د سولې نامعلوم برخلیک؛

## په واشنګټن کې له افغانستانه د ټولو سرتېرو د ایستلو پر سر نانډرۍ روانې دي



د سولې له کاواکه بهیر سره هممهاله، له افغانستانه د امریکایي ځواکونو د ایستلو په اړه هم ضد او نقیض راپورونه خپرېږي. د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ پر دې ټینګار کوي چې خپل ځواکونه به په چټکه توګه په راتلونکې میاشت کې له افغانستانه وباسي، خو ځینې امریکایي اوسني او پخواني چارواکي د دغه اقدام مخالفت کوي. دلته په افغانستان کې بیا جګړې شدیدې شوې دي، د سولې بهیر کاواکه دی او داسې ګنګوسې هم خپرې شوې چې ښایي افغان حکومت له دې بې پایلې مذاکراتو خپل پلاوی بېرته کابل ته را وغواړي. شاوخوا دوې میاشتې کېږي چې په دوحه کې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ مخامخ مذاکرات پیل شوي، خو تر دې دمه دواړه لوري ان د مذاکراتو پر تګلاره لا هوکړې ته نه دي سره رسېدلي. اوس تازه په رسنیو او سیاسي جریانونو کې دا ګنګوسې هم خپرې شوي چې ښایي افغان حکومت د دوحې له مذاکراتو خپل پلاوی را وبولي. د ملي مصالحې عالي شورا رییس ډاکټر عبدالله عبدالله بیا وایي چې تر دې دمه د پلاوي د بېرته رابللو په اړه پرېکړه نه ده شوې. هغه هم د مذاکراتو له روان بهیر ناخوښ دی او په خبره یې، که دا پروسه همداسې روانه وي، نو بې ګټې ده، د خلکو هیلې نه شي پوره کولی او د افغان پلاوي حضور په دوحه کې کوم اغېز نه شي لرلی.

د ملي مصالحې عالي شورا رییس وویل چې له مذاکراتو سره هممهاله روانه جګړه یوازې د امتیاز اخیستلو لپاره ده او دا د منلو وړ نه ده. هغه وایي، دا یې هم حللاره نه ده چې پلاوی دې بېرته راوبللی شي. د ډاکټر عبدالله عبدالله په خبره: ((موږ تر دې دمه پرمختګ نه لرو. نو حللاره څه ده؟ پلاوی را وغواړو او ورته ووایو چې ستاسې حضور نور اړین نه دی، ځکه په دوو میاشتو کې کومې پایلې ته نه یې رسېدلي، نو دا کار وکړو، که کوم بل کار)).

ډاکټر عبدالله عبدالله په هېواد کې د تاوتریخوالي پر اوسنۍ کچې هم جدي اندېښنه ښیي. د ده په خبره، د خلکو تر منځ وېره ډېره شوې او هره ورځ د خونړیو پېښو راپورونه خپرېږي. د عبدالله په خبره: ((تاوتریخوالی ډېرېږي. د خلکو ترمنځ وېره ډېرېږي، خو بیا هم د خبرو لپاره وخت ټاکل کېږي، هلته بیا یو قوي نیت نشته. یا به دا داسې نسخه وي چې په سیمه او افغانستان کې وضعیت ښه پېچلې کړي او جګړه دوام وکړي)).

د سولې د نامعلوم برخلیک او روان وضعیت په اړه د اندېښنو تر څنګ له افغانستانه د امریکایي ځواکونو د وتلو په اړه هم ضد او نقیض راپورونه خپرېږي. ټرمپ ژمنه کړې وه چې د روان میلادي کال تر پایه به خپل ټول سرتېري له افغانستان وباسي او امریکایي رسنۍ وایي، داسې ښکاري چې ټرمپ به ارو مرو خپله دغه ژمنه پوره کوي. تازه ټرمپ د امریکا په دفاع وزارت کې ستر بدلونونه راوستل او ټول هغه چارواکي یې له دندو ګوښه کړي چې له افغانستان یې په عجولانه توګه د سرتېرو له ایستلو سره مخالفت کاوه. په همدې لړ کې ټرمپ د امریکا د دفاع پخوانی وزیر مارک اېسپر هم ګوښه کړ، ځکه هغه هم له افغانستانه د سرتېرو د وتلو مخالف و.

د امریکا د دفاع پخواني وزیر مارک اېسپر هم خبرداری ورکړی چې له افغانستانه د امریکایي ځواکونو ناڅاپي او عجولانه وتل به د ټولې سیمې لپاره خطرناک وي. هغه ویلي چې په افغانستان کې لا هم وضعیت د ډاډ وړ نه دی او که امریکایي حکومت په تدبیر او پوره پام خپلې پرېکړې ونه کړي، نو امریکا، متحدینو او ټولې سیمې ته به له دې ځایه خطر جوړ شي. بلخوا د امریکا حکومت پر دې کار کوي چې څه ډول په چټکه توګه خپل سرتېري له افغانستان وباسي. امریکایي رسنۍ وایي چې په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو قوماندان دمګړۍ په امریکا کې دی او پنټاګون د سرتېرو د ژر ایستلو پر لارو چارو خبرې کوي. په همدې راتلونکو ورځو کې به ټرمپ له افغانستان د خپلو سرتېرو د ایستلو په اړه رسمي اعلان وکړي. افغان حکومت تر دې دمه پر دغه راپورونو غبرګون نه دی ښودلی.

# د کرونا وېروونکې څپه؛

## په امریکا کې د کرونا ویروس له کبله د مړو شمېر تر ۲۵۰ زرو کسانو واوښت

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې ۵۳ میلیونه او ۸۸۳ زره او ۱۲۹ ته رسېدلې دي. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله یو میلیون او ۳۱۱ زره او ۹۳۴ کسان مړه شوي او نږدې ۳۸ میلیونه تنه ترې بېرته رغېدلي دي. د امریکا متحده ایالتونه د کرونا وبا د ډېرو مثبتو پېښو او مړو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو له مخې، په امریکا کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې ۱۱ میلیونه او ۶۸ زره او ۱۸۱ ته رسېدلې او ۲۵۰ زره او ۱۴ نور امریکایان یې مړه کړي دي. تر امریکا وروسته هند د کرونا ویروس د ۸ میلیونه او ۷۷۳ زره او ۴۷۹ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د پنځه میلیونه او ۸۱۹ زره او ۴۶۹ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دریم، فرانسه د یو میلیون او ۹۲۲ زره او ۵۰۴ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ څلورم او روسیه د یو میلیون او ۹۰۳ زره او ۲۵۳ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي. دغه راز هسپانیا، برېټانیا، ارجنټاین، کولمبیا او ایټالیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا ویروس له کبله ډېر خپل شوي دي. د راپورونو له مخې، د امریکا او اروپا په ګډون په ټوله نړۍ کې یوځل بیا د کرونا ویروس د مړو او مثبتو پېښو شمېر مخ پر ډېرېدو دی. په امریکا کې د کرونا ناروغۍ د څارنې یوې اداري په خپل بلاګ لیکلي: «د بستر شویو لوړ شمېر ښیي چې د کرونا وبا د خپرېدو له پیل راهیسې تر ټولو بد پړاو ته ننوتلي یو.» د بستر شویو تازه شمېر، په تېرو دوو اونیو کې په سلو کې ۴۰ زیاتوالی ښیي چې ورسره په تېرو څو ورځو کې د ورځې په منځني ډول په کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر هم یو لک او شلو زرو ته زیات شوی دی. د امریکا په متحده ایالتونو کې یوازې د نومبر میاشتې له لومړیو تر یو میلیون ډېر کسان په کرونا ویروس اخته شوي او په دې موده کې په ورځني ډول د مړو شمېر هم تر زرو زیات شوی، خو د درملنې ښه کېدو د مړو شمېر راکم کړی، حال دا چې په پسرلي کې په کرونا ویروس د مړو شمېر زیات وو. په ورته وخت کې د امریکا د ساري ناروغیو مخکښ متخصص ډاکټر انتوني فاوچي ویلي، که دغه هېواد د عامې روغتیا په برخه کې خپل اقدامات زیات نه کړي، کرونا وبا به نور هم بد حالت راولي. دا څرګندونې په داسې حال کې کېږي چې د امریکا ټول ایالتي او محلي چارواکي له خلکو غواړي چې احتیاطي تدابیر په پام کې ونیسي او یا هم ګڼو چارواکو د نویو محدودیتونو خبرداری ورکړی دی.


## د کتـاب خبـرې

# د جاسوسی پېښلړ RAW, ISI او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او ادېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### دویمه برخه

**د نړۍ دویم تر ټولو زوړ مسلک**




دوراني: موږ يې ځکه وايو چې هغه ستونزې چې تاسو ورسره مخ یاست، دا زموږ لپاره مناسب وخت نه دی چې اوس د سکانو کارت، د کشمیر کارت او د اسام د ازادي غوښتونکو متحدې جبهې کارت ولوبوو.
په پایله کې نظر دا و چې که چېرته دا یو پاڅون وي، باید پر جگړې بدل نه شي، داسې جگړه چې دواړه لوري يې نه غواړي. دا پر یوه کړکېچ اوښتی شوای چې دواړه هېوادونه يې په یوه جگړه کې ښکېلول. نظر دا و چې پاڅون باید کنټرول شوی وای. په ټوله کې دا چې موږ کنټرولولای شوای، دا یوه متفاوته موضوع وه. یو چا زموږ د محدودې وړتیا په اړه چې دا ډول ستر مسایل مدیریت کوو، ښه نظر درلود او تر خپلې وسې پورته کار کول ښه نه دي. خو که چېرته د یادېو مسایلو ډینامیکونه زما له وسې پورته وو، نو دا بیا جلا خبره وه. په هر حال، د دولت نیت دا نه و چې په همدې دریځ کې پاتې شي او په پایله کې په لال کلا کې شین بیرغ ورپېړي. له شک پرته ځینې کېدای شي په دې باور وي چې د شوروي اتحاد له وتلو وروسته ضیا یا حمیدگل د افغانستان د تسخیر هیله لرله! خو زموږ اصلي موخه له یاد هېواد سره د سوداگریزو او کلتوري اړیکو ساتل و. هغه مهال حتی په سترو پروژو لکه له منځنۍ اسیا څخه د برېښنا د لېږد په اړه فکر کېده او دا زموږ په لومړیتوب کې و. په اوس وخت کې کاسا ۱۰۰۰ او سي پېک په څېر پروژو ته په کتو، ویلی شو چې پر ځینو پروژو له وړاندې فکر شوی و. دا هغه مهال یو ډېر په زړه پورې غږ و، چې ما واورېد: راځئ چې برېښنا له منځنۍ اسیا وپېرو. ما وویل، تاسو څومره غیر عملي خبرې کوی، څنگه کېدای شي چې له واخان دهلېز څخه مزی وغځوو؟ خو اوس پنځه ویشت کاله وروسته د چین او پاکستان د اقتصادي دهلېز (سي پېک) د جوړېدو شاهدان یو.
دولت: د مسلکیتوب (پروفشنلېزم) پوښتنې ته د ځواب په اړه باید ووایم، چې له کرښې هاخوا کشمیریانو سره په کتنه کې مې له هغوی وپوښتل چې کوم سازمان (استخباراتي) ښه او مسلکي کسان لري؟ عمومي ځواب دا و چې زموږ خلک عالي دي. پاکستان هم ځینې ښه افسران لري، خو زموږ اجیت ډوال ته نه شي رسېدای.
دوراني: شکر خدایه
دولت: زه ویلی شم چې زموږ RAW یا IB له شک پرته له یوه جنرال اسد دوراني سره سیالي کولای شي.
سېنها: په RAW کې ناکام مشران هم تېر شوي دي.
دولت: زه دا نه منم ځکه چې د ټولې نړۍ په څارگرو ادارو کې دا خبره شته. دا معمول ده چې څارگرې ادارې ځینې وخت ډېر تکړه او ځینې وخت ډېر عادي مشران لري. جنرال صېب د CIA یادونه وکړه چې که څه هم د نړۍ په کچه ستر سازمان دی، خو په نړیوالې رده بندۍ کې دربیم ځای لري. دا چې CIA د نړۍ دربیم سازمان دی، نو دا به په دې مانا وي چې مشران يې هم عادي خلک دي. نو ویلی شو چې ناکاره مشران هر چېرته پیدا کېدای شي که هغه IB وي یا ISI.
سېنها: ایا ISI تل یوه پیاوړې رهبري لرلې ده؟
دوراني: په ټوله کې موږ هندي نظام ته د یوه اغېزناک هغه په سترگه گورو. دا یو بنسټې سیستم دی. داسې نه ده چې د هر چا خوښه او زړه و، د سیستم مشرۍ ته راشي، لکه زموږ طارق عزیز چې له مالي سکتور څخه د ملي امنیت شورا سلاکارۍ دندې ته راغی. یا د حکومت یو نږدې کس چې پوځي افسر و، خو وروسته د IB مشر شو. د پوځ مشر ښایي د ISI لپاره مشر وړاندیز کړي، خو اصلي واک يې له لومړي وزیر سره دی. لزوماً نه، ځکه چې ښایي هغه د کوم چا ملگری وي، ایډیاوې او وړتیا به لري، په یو څه نړیوالو چارو او مدیریت به پوهېږي او نیک سلوکه به وي. یو شمېر سر زورو هڅه وکړه چې سازمان په یوازې ځان اداره کړي، خو دا د سازمان نرمښت یا انعطاف دی چې د لنډمهاله شوکونو پر وړاندې درېدلی شي.
دولت: د نورو سازمانونو برعکس یوه ستونزه دا ده چې موږ نه یوازې استخباراتي معلومات راټول کړو، بلکې تحلیل يې هم کړو. زه فکر کوم ISI هم همداسې ده. په دواړو ادارو کې پر تحلیل زیات ټینگار کېږي نه یوازې په راټولولو. زموږ ادارې اړې دي چې ډېر څه په لاس کې ولري، کنه له دې پرته به يې یوازې معلومات پر اوږو بار شي. یوه اداره یا سازمان باید څه شی وړاندې کړي؟ که ته غواړې د هر پېښېدونکي شي په اړه ځان پوه کړې، نو اساسي شیان به له لاسه ورکړې. زموږ تمرکز پر څه شي دی؟ ایا موږ پاکستان، افغانستان، کشمیر، تامیل ناډو، پنجاب، کورني امنیت، نړیوال امنیت، استخباراتو ضد او که تروریزم ضد جگړې ته پام وکړو؟ دا بې پایه دي. بله ستونزه چې موږ ورسره مخ یو، د مالکیت مسئله ده.
دوراني: د موساد مشر له شپږو کلونو راهیسې دنده ترسره کوي.

**دوام لري...**

# د حکیم ناصر خسرو بلخي د صحي علومو انستیتوت

حمیدالله حمیدي




کله چې خصوصي سکتور د افغانستان له لوړو زده کړو وزارت سره په همغږۍ د لوړو زده کړو په برخه کې پانگونه وکړه، نو ډېری هغو کسانو ته د لوړو زده کړو زمینه برابره شوه چې دولتي پوهنتونونو او د لوړو زده کړو موسسو ته يې لار نه شوای موندلی، پخوا د بېلا بېلو ستونزو له کبله له زده کړو پاتې وو او یا يې هم غوښتل د خپل کاروبار تر څنگ لوړې زده کړې وکړي یا هم نور پوهنځي ولولي. دا په افغانستان کې یوه نوې تجربه ده، نو کېدای شي ځینې ستونزې ور سره ملې وي؛ خو ډېر داسې خصوصي پوهنتونونه او د لوړو زده کړو موسسې شته چې په خورا لوړه کچه محصلین روزي او ښه امکانات لري. لوړو زده کړو وزارت ته پکار ده چې په خصوصي پوهنتونونو او د لوړو زده کړو موسسو باندې خپل څار زیات کړي، څو يې کیفیت نور هم لوړ شي. په نوره نړۍ کې تر دولتي پوهنتونونو خصوصي هغو ته ډېر ارزښت ورکول کېږي، ځکه که په نړیواله کچه د پوهنتونونو درجه بندي یا رېنکېنگ وکتل شي، نو خصوصي پوهنتونونه يې په سر کې راځي. دا ځکه چې په خصوصي پوهنتونونو کې محصلینو ته د پیسو په بدل کې زده کړې ور کول کېږي، نو هڅه کوي څو ټول هغه امکانات ورته برابر کړي، چې یو پوهنتون یا د لوړو زده کړو موسسه او یا هم انستېټیوت يې باید ولري او خپل ارزښت ورځ تر بلې لوړ کړي. د لوړو زده کړو له موسسو پرته د نیمه لوړو زده کړو انستېټیوتونه هم د پام وړ دي، چې ځینې يې په پوهنې وزارت، مخابراتو او معلوماتي تکنالوژۍ او ځینې يې هم بیا په روغتیا وزارت پورې اړوندېږي. په ځانگړې توگه اوس د هغو انستېټیوتونو شمېر ډېر شوی چې د روغتیا وزارت اړوندېږي او په طبي برخه کې کار کوي. دغه انستېټیوتونه د قابلگۍ، نرسنگ، فارمسۍ، ستوماتولوژۍ، انستیزۍ، رادیولوژۍ، فزیوتراپۍ او طبي تکنالوژۍ او نورو برخو کې کسان روزي. په یادو برخو کې مسلکي کسانو ته نن سبا ډېره اړتیا لیدل کېږي، خو په دې شرط چې ښه روزل شوي وي او په خپل مسلک کې کافي تجربه ولري. که څه هم د هېواد د ځینو ولایتونو په مرکزونو کې د دغه ډول انستېټیوتونو د فعالیت امکانات شته او تر ډېره هغه کسان چې له دې انستېټیوتونو فارغېږي، بېرته د اړوندو ولایتونو په مرکزونو کې کار کوي، په داسې حال کې چې په کلیو او بانډو او لرې پرتو سیمو کې ورته ډېره اړتیا لیدل کېږي.

د افغانستان په ډېرو وروسته پاتې ولایتونو کې لا هم په روغتونونو او کلینیکونو کې مسلکي ډاکټران نشته، چې له کبله يې خلک اړ کېږي خپل ناروغان ولایتي او یا هم مرکزي روغتونونو ته ورسوي، چې ډېره کله بیا په لار کې مړه کېږي هم. په دې هیله چې د افغانستان ټول دولتي او خصوصي روغتونونه او کلینیکونه د مسلکي ډاکټرانو درلودونکي واوسي. له یادو اکاډمیکو مرکزونو څخه چې په ځانگړې توگه طبي برخه کې خلکو ته د زده کړو زمینه برابروي، یو هم د حکیم ناصر خسرو د طبي زده کړو انستېټیوت دی.
د حکیم ناصر خسرو بلخي انستېټیوت په ۱۳۹۳ کال کې پر فعالیت پیل کړی دی. د دغه انستېټیوت رییس ښاغلی ماهر پویا وايي، د ناصر خسرو بلخي انستېټیوت له پیله تر اوسه ټول اته پوهنځي لري چې په پنځو پوهنځیو کې يې زده کړیالان په عملي ښه پر زده کړو بوخت دي. د ښاغلي پویا په وینا، ناصر خسرو بلخي انستېټیوت د قابلگۍ، نرسنگ، فارمسي، ستوماتولوژۍ، انستیزۍ، رادیولوژۍ، فزیوتراپۍ او طبي تکنالوژۍ څانگې لري. د نوموړي په خبره، یاد انستېټیوت په مختلفو تحصیلي طبي برخو کې زده کړیالان روزي.
ښاغلی پویا وايي چې د حکیم ناصر خسرو بلخي انستېټیوت په ټوله کې ۶۰۰ زده کړیالان لري چې له دې ډلې يې ٪۶۰ ښځینه او پاتې ٪۴۰ يې نارینه زده کړیالان تشکیلوي.
نوموړی وايي چې تر اوسه يې درې دورې فارغین ورکړي دي چې د ۱۳۹۹ کال له فارغینو سره يې ټول څلور دورې کېږي.
د ښاغلي پویا په وینا، د ناصر خسرو بلخي انستېټیوت په دوو دورو کې زده کړیالان جذبوي، یوه يې پسرلنۍ دوره ده چې د حمل میاشتې په لومړۍ نېټه پیل کېږي او بله يې خزاني دوره ده چې جذب يې د مېزان میاشتې په لومړۍ نېټه پیلېږي او په هره دوره کې له ۳۰۰ څخه تر ۴۰۰ پورې زده کړیالان جذبوي.
د یاد انستېټیوت مشر ماهر پویا وايي چې دوی خپلو زده کړیالانو ته ځانگړی تخفیف په پام کې نیولی دی، زده کړیالان يې که له هرې طبقې او هر ځای څخه مراجعه کوي، د یاد انستېټیوت لخوا ٪۵۰ تخفیف ورکول کېږي.
نوموړي زیاته کړه چې ناصر خسرو بلخي انستېټیوت د ورځې په دریو دورو کې تدریسي چارې لري، لومړۍ دوره يې د سهار له پنځه نیمو تر اته بجو پورې، دویمه دوره يې له اته تر دوولسو بجو پورې او دریمه دوره يې له یوې تر څلورو بجو پورې دوام کوي.
د ښاغلي پویا په وینا، دوی د زده کړیالانو لپاره کتابتون لري چې په ځانگړې توگه طبي کتابونه پکې ډېر دي. نوموړی وايي چې دوی د هېواد په کچه له ښوونیزو بنسټونو سره نېکې اړیکې لري او په راتلونکي کې هڅه کوي چې له بهرنیو علمي او اکاډمیکو بنسټونو سره هم اړیکې ټینگې کړي.
ښاغلی ماهر پویا وايي، ناصر خسرو بلخي انستېټیوت د خپلو زرو تنو فارغو زده کړیالانو لپاره په دوو دورو کې ډیپلومونه توضیح کړي دي.
ښاغلی پویا زیاتوي چې د زده کړیالانو د علمي کچې د لوړولو په موخه تل ډېر علمي سمینارونه دایروي، زده کړیالان د عملي فعالیتونو لپاره روغتونونو ته وړي او په همدې برخه کې يې له ډېرو روغتونونو او روغتیایي مرکزونو سره قراردادونه هم لاسلیک کړي دي او د انستېټیوت لپاره يې د کابل ښار په کچه پیاوړي او تجربه لرونکي استادان گومارلي دي.
ښاغلی پویا وايي چې د انستېټیوت د علمي سویې د لوړولو او لا ښداینې په موخه په راتلونکي کې ځینې پلانونه تر لاس لاندې لري. د نوموړي په وینا، غواړي چې خپلې ځینې دوه کلنې طبي څانگې عالي تحصیلاتو ته لوړې کړي او له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي چې په دې برخه کې د عالي تحصیلاتو جواز ورکړي.
ښاغلی پویا زیاتوي، د امکاناتو په برخه کې هېڅ نیمگړتیا نه لري، غوره روغتون، پیاوړي استادان، علمي کدرونه، تدریسي امکانات او داسې نور هر څه يې په علمي او نړیواله سویه برابر دي.
ښاغلی ماهر پویا همدارنگه وايي چې له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي چې انستېټیوت ته يې له نیمه عالي څخه عالي کچې ته ارتقاع ورکړي او د انستېټیوت اړتیاوو او ظرفیت ته په کتو ورسره هر اړخیزې مرستې وکړي.
کتابتون، کمپیوټر لب، شنه ساحه، د عملي زده کړو لپاره په وخت سمینارونه نیول او لوبغالي هغه امکانات دي، چې یاد انستېټیوت د خپلو محصلینو لپاره برابر کړي دي.
د یاد انستېټیوت اداره له لوړه زده کړو وزارت څخه کومه گیله نه لري، خو وايي که لوړو زده کړو وزارت ورته د دوه کلنو څانگو د لېسانس جواز ورکړي، دا کار به د دوی پر فعالیت ډېر اغېز وکړي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۶,۹۵ |
| € | ۹۰ |
| Rp. | ۴۸۹ |
| ₹ | ۱۰۴۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹۹,۵۰ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

# راه ناپیموده‌ی ترمپ را بایدن می‌پیماید

مرسلین ارسلا

جو بایدن خودش را ملزم به احیای میراث اداره‌ی بارک اوباما (۲۰۰۹-۲۰۱۶) می‌داند و بر بازگشت به وضعیت چندجانبه‌گرایی در سیاست خارجی امریکا تاکید می‌کند. میراثی که دونالد ترمپ با سیاست «اول امریکا» آن‌را دور زد و علاوه بر نادیده‌گرفتن جایگاه نهادهای دولت امریکا، حتا نقش و جایگاه دولت‌ها را در پایان منازعات و حل بحران در مناطق مشخص جهان به چالش کشید.

بایدن جایگاه و نفوذ ایالات متحده را در نظام بین‌الملل تضعیف‌شده می‌پندارد و به این باور است که واشنگتن باید نقش «رهبری بر جهان» را که در زمان رهبری دونالد ترمپ از دست داد، اعاده کند. علاوه بر برگشت به برخی کنوانسیون‌ها و تعهدات بهداشتی، اقتصادی و اقلیمی در نظام بین‌الملل که ترمپ به آن پشت پا زد، تجدید پیمان با سازمان پیمان اتلانتیک شمالی (ناتو) تصامیمی است که در صدر سیاست خارجی اداره‌ی بایدن قرار خواهد داشت. بزرگ‌ترین و طولانی‌ترین ماموریت مشترک امریکا- ناتو در حال حاضر، جنگ افغانستان و تلاش مشترک برای دریافت راه‌حل سیاسی برای پایان این جنگ است. تلاشی که ترمپ آن‌را به واشنگتن منحصر ساخت و جایگاه ناتو به پشت در مذاکرات تقلیل یافته بود.

از اعلان استراتژی نظامی اداره‌ی رئیس‌جمهور ترمپ برای جنوب آسیا (۲۰۱۷) که نه در طرح آن دیدگاه دولت افغانستان پرسیده شد و نه هم نسخه‌ی از آن در اختیار کابل قرار گرفت، تا آغاز مذاکرات صلح میان واشنگتن- طالبان (۲۰۱۸) و نهایی‌شدن متن توافق‌نامه‌ی دو طرف (۲۰۲۰)، در هیچ یکی از این جریان‌ها که روی منازعه‌ی افغانستان در آن تصمیم گرفته می‌شد، دولت افغانستان دخیل نبود. در بهترین حالت رهبری دولت افغانستان توانست تنها نسخه‌ی توافق‌نامه‌ی صلح واشنگتن-طالبان را از روی میز زلمی خلیل‌زاد مرور کند، اما نتوانست نسخه‌ی از آن بردارد.

در چهار سال حکومت‌داری رئیس‌جمهور ترمپ، وی تنها دو بار با رئیس‌جمهور غنی ملاقات مختصر داشت، ولی این دیدارها زمینه‌ساز گفت‌وگو روی مسایل و تصامیم مهم در رابطه به معضل افغانستان نشد و تنها در حد تشریفات و ستایش از هم‌کاری کابل- واشنگتن در مبارزه با تروریزم بوده است.

رئیس‌جمهور ترمپ درست موقعی وارد کاخ سفید شد (۲۰۱۶) که جدال سیاسی بر سر ایجاد حکومت وحدت ملی در کابل ثبات داخلی افغانستان را سخت صدمه زده بود و این وضعیت برنامه‌های ایالات متحده در افغانستان را نیز با موانع همراه ساخت. این ثبات شکننده و نبود مرجع واحد تصمیم‌گیری و مشورت در کابل، سبب شد تا دولت افغانستان به حاشیه برود و واشنگتن با در پیش‌گرفتن روی‌کرد یک‌جانبه‌گرایی، از استراتیژی جنوب آسیا تا تصمیم برای گشودن باب مذاکره با طالبان بدون مشورت با کابل اقدام نماید و این‌گونه جایگاه افغانستان به‌عنوان دولت مستقل و شریک نظامی-استراتیژیک امریکا تضعیف شود.

جو بایدن که در سال ۲۰۱۱م چندان با عملیات بالای اقامت‌گاه اسامه بن لادن در پاکستان موافق نبود، حضور نظامی ایالات متحده را در افغانستان به معنی دفع تهدید شبکه‌ی القاعده در برابر امنیت ملی امریکا عنوان می‌کند.

از اظهارات جنجالی وی در زمان مبارزات انتخاباتی در رابطه به تقسیمات جغرافیایی افغانستان اگر بگذریم، تفاوت چندانی در دیدگاه بایدن با ترمپ در خصوص مسئله‌ی افغانستان دیده نمی‌شود. بلکه برخی اقدامات اداره‌ی رئیس‌جمهور ترمپ راه‌گشایی اداره‌ی بایدن خواهد شد.

بایدن طرف‌دار کاهش حضور نظامی ایالات متحده در افغانستان است و ترمپ این کار را کرد. وقتی بایدن در سال ۲۰۱۶ از قصر سفید بیرون شد، ۱۳۰۰۰ نظامی امریکایی در جبهه‌ی جنگ افغانستان می‌جنگیدند. ترمپ این تعداد را به کم‌تر از ۵۰۰۰ تن کاهش داد. بایدن خودش را اهل دیپلوماسی و مذاکره می‌داند. با به‌دست‌آمدن توافق «آوردن صلح به افغانستان» میان واشنگتن و طالبان، ایالات متحده و طالبان از جبهه رو در روی جنگ در افغانستان عقب رفته و در دوحه باهم در پشت میز مذاکره نشسته‌اند و باب دیپلوماسی گشوده شده است. هرچند عهدشکنی‌های هم از جانب طالبان دیده شده، اما دیپلوماسی به‌عنوان گزینه‌ی مورد نظر آقای بایدن کار را کرده است و طالبان برای نخستین‌بار به واشنگتن تضمین داده‌اند که روابط شان را با گروه‌های تروریستی قطع کنند.

دونالد ترمپ پایان کامل حضور نظامی امریکا را در افغانستان وابسته به بهبود شرایط می‌داند؛ شرایطی که با توجه به واقعیت‌های هشت‌ماه گذشته، چندان بهبود نیافته است. جو بایدن حضور محدود نظامی امریکا، به‌ویژه حفظ نیروهای ویژه‌ی امریکایی را در افغانستان یک نیاز می‌داند. با خود داری نظامیان امریکایی از بازگشت به جبهه‌ی رو در روی جنگ با طالبان، اما دوام حمایت هوایی از نیروهای افغان زمینه‌ی عملی‌ساختن چنین استراتژی را به وجود آورده است.

باری بایدن در دیدار با حامد کرزی (۲۰۱۱)، جایگاه پاکستان در سیاست خارجی اداره‌ی اوباما را پنجاه مرتبه بالاتر از جایگاه افغانستان بر شمرده بود. اداره‌ی رئیس‌جمهور ترمپ نیز در عمل چنین موقفی را برای اسلام‌آباد در نظر داشت و با وجود عدم اثربخشی هم‌کاری پاکستان در مذاکرات صلح بر وضعیت جنگ و کاهش خشونت در افغانستان، هر بار اسلام‌آباد نقطه‌ی آغاز سفرها و مرجع مشورت‌های مقام‌های امریکایی در خصوص تلاش‌های صلح افغانستان بوده است.

در حالی که طالبان به بایدن پیشنهاد کرده‌اند که روند صلح را با روی‌کرد موجود به پیش ببرد و عمران خان نیز وعده‌ی دوام هم‌کاری داده است، حکومت افغانستان اما از این روند دل خوش ندارد و معاون دوم رئیس‌جمهور پیشنهاد می‌کند که حکومت آینده‌ی ایالات متحده باید روند موجود صلح را بازنگری کند.

از دست‌رفتن آزادی‌های مدنی و ارزش‌های دیموکراتیک، به‌ویژه حقوق زنان در مذاکره با طالبان از دغدغه‌های کلان جامعه‌ی افغانستان است. بایدن قول داده است که در سال نخست کارش مجمع جهانی دیموکراسی برای حفظ ارزش‌های دیموکراتیک را تشکیل خواهد داد، اما تا این‌جای کار طالبان A به دست‌آوردهای بیست سال گذشته به دیده‌ی ارزش نمی‌نگرند و در پی تحقق تعریف خودشان از دین و نهادینه‌شدن امارت اسلامی در یک ساختار متفاوت‌تر هستند.

## راپورونه: عمران خان روانه اونۍ د مهمو مسایلو پر سر د خبرو لپاره کابل ته راځي

د پاکستاني رسنیو د راپورونو له مخې، د پاکستان لومړی وزیر عمران خان را روانه پنجشنبه کابل ته راځي، څو د افغان سولې په پروسه کې د پاکستان پر رول او مهمو دوو اړخیزو اړیکو له افغان چارواکو سره خبرې وکړي.

دا به لومړی ځل وي چې لومړي وزارت ته تر رسېدو وروسته عمران خان افغانستان ته سفر وکړي. دا په داسې حال کې ده چې ولسمشر غني د سپټمبر په ۲۵مه د پاکستان له لومړي وزیر عمران خان سره په افغانستان کې د اوربند پر ټینګښت غږېدلی و او هغه ته یې د کابل د سفر بلنه ورکړې وه.

د پاکستان لپاره د افغان ولسمشر ځانګړي استازي محمد عمر داوودزي هم د افغان سولې په تړاو په یوه ویډیو کنفرانس کې د عمران خان د سفر یادونه کړې ده.

داوودزي په دغه کنفرانس کې د خپلو خبرو برخه په ټویټر شریکه کړې او ویلي یې دي: «په ډېر نږدې راتلونکي کې د پاکستان د صدراعظم عمران خان د نږدې همکار ښاغلي رزاق داوود په مشرۍ یو لوړپوړی پاکستانی پلاوی کابل ته راځي او په تعقیب به یې ښاغلی عمران خان هم سفر وکړي.»



داوودزي پرته له دې چې د عمران خان د سفر نېټه په ډاګه کړي، د ولسمشر غني د متبادله سفر یادونه هم کړې ده.

هغه د پاکستان او افغانستان په اړیکو کې د ډېر بدلون یادونه کړې او ویلي یې دي چې له پاکستان په تېرو ۱۹ کلونو کې دا تمه چې طالبان دې په زور د خبرو مېز ته راولي، کارنده نه وه.

د داوودزي په خبره، د پاکستان پر وړاندې د افغانستان دریځ اوس بدل شوی دی.

د هغه په وینا: «موږ په هغه ډول ادعا نه کوو چې طالبانو باندې فشار راوړئ چې د خبرو مېز ته راشي. زموږ خبره اوس دا ده چې موږ منندوی یو چې د امریکا او طالبانو د خبرو کې مو مرسته وکړه. تاسو په دوحه کې د طالبانو د موجودیت اسانتیا رامنځته کړه. موږ د هغو شپږو اهدافو له ډلې چې دواړو ورباندې پرېکړه کړې او سلا ته پرې رسېدلي یو، له تاسو دا تمه لرو چې د افغان – افغان یا افغانانو تر منځ د خبرو اسانچاري هم وکړئ.»

## ولسمشر غني: د کابل امنیتي ټیم هېڅ غړی به د زورواکو په فرمایش له دندې لېرې نه کړم

ولسمشر غني وایي، د کابل امنیتي ټیم هېڅ غړی به د زورواکو په فرمایش له دندې لېرې نه کړي.

غني چې پرون یې د لومړي مرستیال امرالله صالح په مشرۍ د کابل امنیتي ټیم د شپږنیمو بجو په غونډې کې ګډون کړی، له دغه ټیم څخه یې خپل ملاتړ هم څرګند کړی دی.

د ارګ په فېسبوک پاڼې کې د ولسمشر غني په حواله ویل شوي چې نوموړي ژمنه کړې چې دا ټیم به نور هم پیاوړی کړي. د سرچینې په خبره: «زه به تاسې یو هم د زورواکو په فرمایش له دندو لرې نه کړم، د غصب شویو ځمکو بېرته راګرځول مهمه برنامه ده او باید په جدي توګه تعقیب شي. تر هغو چې کابل په اساسي توګه امن نه شي، د شپږ نیمو بجو امنیتي ټیم به نور هم تقویه شي. د منابعو له پلوه به د دغه ټیم د پیاوړتیا لپاره ټولې منابع په کار واچوو.»

غني ویلي، ستونزه دا وه چې د منابعو نه په ګټوره توګه کار نه اخیستل کېده، خو د شپږ نیمو بجو د امنیتي ټیم په نوښت سره به دا ستونزه هواره شي. نوموړي زیاته کړې، که دغه ټیم د موثرو او ذهنیت جوړوونکو برنامو لپاره هر وړاندیز لري، هغه به هم اجرا کېږي.

ولسمشر همدارنګه د کابل ښار د امنیت تنظیم د شپږ نیمو بجو له ټیم څخه غوښتي چې د قانون په تطبیق کې وېره ونه لري او له دغه ټیم یې غوښتي چې د دولت له نرم او سخت قوت څخه معقوله استفاده وکړي او قانون ماتوونکي د قانون منګولو ته وسپاري.

هغه زیاته کړې: «زموږ دینی علما باید په دغه برنامه کې اساسي برخه ولري. زه به ډېر ژر د درنو جریمو طرحه لاسلیک کړم، تر څو قانون ماتوونکي پوه شي چې د شپږ نیمو بجو ټیم د ټول نظام ملاتړ له ځان سره لري.»

دا په داسې حال کې ده چې په کابل ښار کې د تروریستي او جنایي پېښو تر زیاتېدو وروسته د کابل ښار امنیتي چارې د لنډ مهال لپاره د ولسمشر غني لومړي مرستیال امرالله صالح ته وسپارل شوې. یاد ټیم تر فعالیت پیلولو وروسته په کابل ښار کې د یو شمېر هغو کسانو عکسونه خپاره کړل چې په لویو جنایي او تروریستي جرمونو تورن دي. د کابل امنیتي ټیم د کابل ښار له اوسېدونکو څخه غوښتي وو چې د تورنو کسانو په پېژندلو او نیولو کې له پولیسو سره مرسته وکړي.

مسیر ورځپانه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696 waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul waygalprinting.co@gmail.com

یکشنبه د ۱۳۹۹ د لړم ۲۵مه | د ۲۰۲۰ د نومبر ۱۵مه | ۶۲۸مه ګڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۹ | ۱۵ | ۱۵ | ۱۱ | ۱۷ | ۱۴ |
| -۴ | -۱ | ۲ | ۱ | ۶ | ۴ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۰۱ | لمر ختل ۰۶:۲۶ | ماسپښین ۱۱:۳۹ | مازیګر ۰۲:۲۹ | ماښام ۰۴:۵۰ | ماخوستن ۰۶:۱۷

## نړۍ





## ایران: امریکا او اسراییل هڅه کوي چې په سیمه کې د ترهګرۍ او جنایتونو مسوولیت پر نورو واچوي

امریکايي ورځپاڼې نیویارک ټایمز د جمعې په ورځ لیکلي وو چې د اسراییل استخباراتو د روان کال په اګست په میاشت کې د القاعده شبکې مرستیال عبدالله احمد عبدالله په پټو عملیاتو کې وژلی دی.

د نیویارک ټایمز په راپور کې همدرانګه ویل شوي وو چې عبدالله په ۱۹۹۸ ز کال کې په تانزانیا او کینیا کې د امریکا په سفارتونو په بمي چاودنو کې لاس درلود او مجرم بلل شوی و. استخباراتي چارواکو نیویارک ټایمز ورځپاڼې ته تایید کړې وه چې د اسراییل د استخباراتي اداري دوو اجنټانو د ایران په پلازمېنه تهران کې د امریکا د متحدو ایالتونو په غوښتنې، عبدالله احمد عبدالله وژلی دی. خو ایران د نیویارک ټایمز د ورځپاڼې راپور رد کړی دی. د ایران د بهرنیو چارو وزارت په یوې اعلامیې کې په یاد هېواد کې د القاعدې د شبکې شتون رد کړی دی. په اعلامیه کې ویل شوي: «د نیویارک ټایمز د ورځپاڼې دا راپور د غلطو معلوماتو پر اساس جوړ شوی».

د ایران د بهرنیو چارو د وزارت ویاند، سعید خاطبزاده په اعلامیه کې لیکلي: «د ایران دښمنان، اسراییل او امریکا کوښښ کوي چې په سیمه کې د القاعدې د جنایاتو په هکله مسوولیت بل لوري ته واړوي».

## راپورونه: د هندي او پاکستاني ځواکونو د نښتو له کبله له ۵۵ ډېرو کسانو ته مرګ ژوبله اوښتي



د راپورونو له مخې، د پاکستان او هند ترمنځ پر ګډه پوله د نښتو له کبله دواړو لورو ته ۱۵ کسان وژل شوي او له ۴۰ ډېر ټپیان شوي دي. په دغو نښتو کې ډېره مرګ ژوبله ملکیانو ته اوښتې ده. دواړه خواوې یو او بل د جګړې په پیل تورنوي.

په کشمیر کې د بارمولا ولسوالی مسوول ریاض احمد ملک ویلي چې د پاکستاني پوځیانو د اوربند تړون تر پښو لاندې کړی او د پولې دېخوا کلي یې په راکټونو ویشتلي دي.

خو پاکستاني چارواکو ادعا کړې چې هندي پوله ساتو د ملکیانو استوګنځي هدف ګرځولي او په تاري بند او سماهني کلیو یې د راکټ او هاوانونو ډزې کړي دي. د پاکستان د پوځ د مطبوعاتو دفتر ویلي چې پاکستاني پوځیانو د هند د دغو بریدونو ځواب ویلی او د هندي عسکرو پوستې یې په نښه کړي دي.

د یادونې ده چې هند او پاکستان په خپلو څلورو لویو جګړو کې درې هغه یې د کشمیر پر سر کړي او هر یو دا سیمه خپله بولي. د ۲۰۱۹ ز کال د اګسټ په پنځمه کله چې هند د جمو او کشمیر نیمه کورواکي ور ختمه کړه، د پاکستان تُند غبرګون یې وپاراوه. له هغې څو میاشتې مخکې په فبرورۍ کې لانجه دې حد ته ورسېده چې هند او پاکستان د یو بل خاورې بمبار هم کړې.

## یافته ها: توسط اسناد جعلی در خوست قرارداد پروژۀ ۱۰۷ میلیون افغانی انجام شده است



یافته های پژواک نشان می دهد که قرارداد پروژۀ یک دیوار استنادی منظور شده که توسط وزارت احیا و انکشاف دهات در ولایت خوست صورت گرفته و هزینۀ آن، بیش از (۱۰۷) میلیون افغانی میباشد، توسط اسناد جعلی انجام شده است.

این پروژۀ دیوار استنادی که تاهنوز کار عملی آن آغاز نشده است و ۱۳،۵ کیلومتر طول دارد، به کمک بانک جهانی انجام می شود که به اساس طرزالعمل، باید توسط شوراهای انکشافی قریه ای عملی شود اما تنها قرارداد ٤٧٢٢ متر این دیوار، به امضاء رسیده است.

این پروژه در مناطق هارون خیل، قدم، لندر، صادق و کوتکی ها مربوط ولسوالی علیشیر ولایت خوست عملی می شود که طبق طرزالعمل، قرارداد آن هم حق پنج شورای انکشافی مناطق یاد شده دانسته می شود.

اما در اسنادیکه پژواک به دست آورده، اظهار می شود که وزارت احیا و انکشاف دهات، قرارداد پروژۀ یاد شده را بجای مناطق یاد شده، با شوراهای انکشافی در مناطق دیگر قرارداد کرده است.

براساس معلومات، از این پنج شورای انکشافی؛ کوزه ابوخانه، سترسواکی، و تل وال، سه شورای آن مناطقی هستند که از مکان تطبیق پروژه چند کیلومتر دورتر موقعیت دارند.

شورای انکشافی سلیم جان کوز کلی، به جای هارون خیل شورای قدمو، صادق، لندر و بجای شورای کوز کلی قدمو، بجای صادق ها و لندرو قرارداد های منطقۀ کوتکی ها به امضاء رسیده است.

## ژوند

## ترخه خواړه او ګټې یې



د تغذیې متخصصینو په وینا چې په کافي اندازه د مرچک کارول کولی شي ستاسو د زړه روغتیا لپاره ګټه وکړي. مګر دا چاره په اونۍ کې باید درې ځله تر سره شي او له دې زیاته باید تر سره نه شي. د مرچکو زیات استعمال مو زړه ځوان ساتي. همدغه راز د کاپاساکین په نوم یو مرکب کې دا په ډاګه شوې، چې د مرچکو زیات استعمال مو د وینې رګونو پاک ساتلو او پیاوړي کولو کې مهم رول لري. د تغذیې متخصصینو په وینا چې د مرچکو زیات استعمال مو د وینې فشار ټیټولو کې مهم رول لري.

د مرچکو زیات استعمال زموږ د زړه په ساتنه کې مرسته کوي. زیات مرچک لرونکي خواړه ستاسو معده روغه ساتي او په معده کې د تیزابو مقدار کموي. زیات مرچ لرونکي خواړه مزاج لوړوونکي دي چې له دماغ سره مرسته کوي څو په بدن کې د خوښۍ هورمونونه خپاره کړي. دغه راز شنه مرچک د ویټامین سي درلودونکي دي، خو په سیورې او سوړ ځای کې یې وساتئ، ځکه که ګرم ځای کې وساتل شي، خپل ویټامین سي له لاسه ورکوي.

## اپل د خپل عامل سیستم ستر اپډېټ وړاندې کړ



اپل کمپنۍ د خپل عامل سیستم نوی اپډېټ، iOS ۱٤,۲ وړاندې کړ چې دا په سپټمبر کې له وړاندې شوي iOS ۱٤ وروسته تر ټولو ستر اپډېټ دی. اپل کمپنۍ د دغه اپډېټ له لارې د نورو ځانګړنو تر څنګ د آیپډ او آیفون کاروونکو لپاره ۱۰۰ نوي اېموجیز هم وړاندې کړي. د ایفون۶ اېس او له هغې وروسته وړاندې شویو ټولو آیفونونو کاروونکي، ایپاډ ټچ اوم جنرېشن، ایپډ اېیر۲ او له هغې وروسته وړاندې شوي آیپډونه او آیپډ میني او له هغې وروسته وړاندې شوي آیپډ میني کاروونکي کولی شي له ځنډ پرته خپل اوزار اپډېټ کړي. اپل کمپنۍ د دغه اپډېټ له لارې د ډېرو نویو ځانګړنو اضافه کولو تر څنګ مهمې امنیتي نیمګړتیاوې هم له منځه وړې او له همدې امله یې ټولو کاروونکو ته سپارښتنه کړې چې د خپلو معلوماتو خوندیتوب لپاره له ځنډ پرته خپل آیفون او آیپډ اپډېټ کړي.

د iOS یا iPadOS ۱٤,۲ ښکته کولو طریقه خپل آیفون یا آیپډ کې Settings، بیا General او بیا Software Update کلېک کړئ. دلته به تاسې نوی اپډېټ او د انسټال کولو آپشن ووینئ.

عزیزي بانک
Azizi Bank
د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه

عزیزي بانک خپلې د ازي پې بڼې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بایومتریک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنۍ ستېټمنټ لیدل، د صرافۍ خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې وېستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډیټ زیاتول، د بل اداینه او نورې برخې وړاندې کوي
مهرباني وکړئ نوې بڼه یې له اپسټور او پلې سټور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.
www.azizibank.af 1515